ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے

نوح او لوئ طوفان

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Tammy S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

نوح یو نیک انسان وو چې د
خدائ عبادت به یې کولو. او
نورو ټولو د خدائ نافرمانی
وکړه. یو ورځ خدائ پاک نوح
ته ووئیل. چې زهٔ به د دنیا او
مخلوق تبا
کړم. او
صرف ستا کورَنئ
به بچ کړم.

خدائ پاک نوح له خبردارے ورکړو چې زهٔ
به یو لوئ سیلاب راولم او زمکه به په اوبو
پټه شی خدائ پاک نوح ته حکم وکړو چې
خپل ځان او کورَنئ د پاره او د ډیرو
ځناورو د پاره یوه داسی کشتئ جوړه
کړه چې ستاسو د
پاره کافی وی.

خدائ نوح ته د کشتئ جوړولو ټوله طریقه وښودله. نو نوح د کشتئ جوړول شروع کړل.

کله چې نوح هغه لویه
کشتئ جوړوله نو بغیر د
څۀ شک نه هغه خلقو
نوح پوری
خندل.

هغۀ به خلقو ته
د خدائ په باره کښې
وئیل هم. خو چا به د
هغۀ خبرې ته غوږ
نۀ کیخودو.

نوح د خدائ په کلام باندې ایمان لرلو.
د هغۀ ایمان وو چې خدائ داسې
باران راوستلو والا دے. چې تر
نن پورې هغه سې باران نۀ دے
شوے. هغۀ ډیره زر کشتئ تیاره
کړه.او په هغې کښې یې د
ضرورت
ټول
څیزونه
کېښودل.

او ځناور يې هم کشتئ ته و خيژول. خدائ پاک د ځناورو
نه يو يو جوړه وخستل خو د څۀ ځناورو نه يې اووۀ قسمه
وخستل. واړۀ او غټ ټول ځناور کشتئ
ته دننه شول.

کله چې نوح د ځناورو سره کشتئ ته ختلو،
نو هغوئ د خدائ خلاف د ګنه
کولو نه منع نۀ شول. او هغوئ
هغۀ نه کشتئ ته د ختلو پو
بنته هم ونۀ کړه.

په آخر کښې چې ټول ځناور
او مارغان
په کشتئ کښې
سوارۀ شول نو
خدائ ته ووئيل
چې کشتئ ته راشه نو
نوح، او د هغۀ بنځه او درې
زامن يې سره د خپلو بنځو کشتئ
ته دننه شول. او خدائ پاک د
کشتي دروازه بنده کړله.

بیا باران شروع شو او
دا لوئ باران څلویښت
ورځی او څلویښت شپی
ووارېدو، او زمکه په
اوبو پټه شوه.



د باران اوبو
ټول ښارونه او علاقې
پټې کړی. چې کله باران ودریدلو نو
اوبو غرونه هم پټ کړی وو. او
ټول ژوندی څیزونه مړۀ شوی وو.

چې کله اوبۀ ډیرې زیاتې
شوې نو کشتئ د اوبو د پاسه
راغله. کیدے شې چې دننه
ویره وې، او په تور تم کښې
په سړې هټکې راشسو او ډیر
د ویرې نه ډک وې. خو
کشتئ نوح او د نوح د
خاندان له پناه ورکړې وه.

د طوفان نه پيځۀ مياشتې پس خدائ هوا
شروع کړه. او کشتئ په دمه دمه د ارارط
په غرۀ باندې ودريدله. نوح څلويښت
ورځی نور په کشتئ کښې وو.
چې تر سو اوبۀ
کمې شوې
نۀ وې.

نو بيا نوح کړکئ کولاو کړه او يو کارغۀ او ګوګوشتکه يې ولوځول. او چې د ناستې ځائ يې پيدا نۀ کړو نو ګوګوشتکه نوح له واپس راغله.

یوه هفته پس نوح بیا کوشش
وکړو. او ګوګوشتکې په
ماخوکه کښې د زیتونو پانه
راوړله.نو په ورپسې هفته کښې
نوح ته پته ولګیده چې اوبۀ وچې
شوی دی. ځکه چې دا ځل
ګوګوشتکه واپس
رانۀ غله.

خدائ پاک نوح ته ووئيل چې اوس د کشتئ نه بهر راووځئ. نوح او د هغۀ خاندان په شريکه ټول ځناور د کشتئ نه بهر کړل.

نوح د خدائ پاک شکر
اده کړو.نو هغۀ هلته
یو قربان ګاه جوړه کړه
او د خدائ پاک عبادت یې
وکړو. چا چې هغه او د
هغۀ خاندان د یو لوئ
سیلاب نه بچ کړل.

بیا خدائ نوح
سره یو وعده
وکړه. چې زۀ به بیا
هیڅکله هم دنیا په
سیلاب تباه نۀ کړم.

خدائ پاک د خپلې
وعدې د نښې په توګه
هلته یو بنکلے د
بوډئ ټال جوړ کړو.

نوح او د هغۀ خاندان
د طوفان نه پس یو نوے ژوندون
شروع کړو.وخت تیرویدو سره
سره د هغوئ نسل زیاتیدلو
او ټوله زمکه تري نه ډکه
شوه. د دنیا ټول
قومونه د نوح
او د هغۀ
د زمنو په زریعه ډیر شو.

نوح او لوئ طوفان

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قیصئ

شته دے

پیدایښت 6-10

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲